


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډيو ته يوه لنډه کتنه

اريــــن يــــون

۱۳۹۳ل کال

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: لنډیو ته یوه لنډه کتنه

لیـــکواله: ارین یون

خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه

د خپرندوی پرله پسې نومره: (۱۹)

کمپوز/ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ وار: لومړی

چاپ نېټه: ۱۳۹۳ ل کال

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیك


| ګڼه | سرلیك | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | درنو لوستونكو ته یوه یادونه | ۱ |
| ۲ | سریزه | ۳ |
| ۳ | د لنډیو ویونكي | ۸ |
| ۴ | د لنډیو لنډه تاریخچه | ۱۰ |
| ۵ | د لنډیو نومونه | ۱۲ |
| ۶ | د لنډیو شكل او محتوا | ۱۴ |
| ۷ | د نړۍ له نورو مشهورو شعرو سره... | ۳۱ |
| ۸ | د لنډیو په هكله لیكل شوي اثار | ۳۷ |
| ۹ | اخځونه | ۴۹ |


www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریک یادښت

فرهنګي څانګه د افغانستان ملي تحريك له اساسي څانګو څخه يوه ده. د دې څانګې دنده داده چې هېوادوالو ته فرهنګي خدمات وړاندې او ګټور فرهنګي کارونه ترسره کړي. د تاريخي، ملي، کلتوري ورځو او تاريخي او ملي شخصيتونو نمانځل ددې څانګې نورې دندې دي.

د هېواد د ليکوالو د علمي، ديني، روزنيزو او معلوماتي اثارو چاپ هم ددې څانګې له اساسي دندو څخه ګڼل کېږي. له هغې ورځې راهيسې چې تحريك خپل عملي فعاليتونه پيل کړي دي، نو دې څانګې هم ورسره سم خپل فعاليتونه چټك کړي دي. تاريخي ورځې يې نمانځلي، تاريخي واټونو ته يې لوحې جوړې کړي. علمي سيمينارونه او ورکشاپونه يې جوړ کړي دي.

د تحريك دې څانګې د تحريك د عمومي هدفونو په رڼا کې وپتېيله چې په يوځايي ډول (شل عنوانه) کتابونه چاپ کړي. په دې اثارو کې اکثره ديني او علمي اثار شامل دي چې درنو هېوادوالو ته يې وړاندې کوي.

دا اثر (لنډيو ته يوه لنډه کتنه) چې ستاسو په لاس کې دی، اغلې (ارين يون) ليکلی او د همدغو شلو عنوانو اثارو له جملې څخه دی. هيله ده درانه لوستونکي ترې ښه ګټه پورته کړي. تحريك خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې په راتلونکي کې به هم خپلو دې ډول هڅو ته دوام ورکړي.

د هېواد د فرهنګ د بډاينې په هيله

په درناوي

د افغانستان ملي تحريك

فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درنو لوستونکو ته يوه يادونه

درنو او قدرمنو لوستونکو! دا اثر يا کتابګوټی چې اوس ستاسو په لاس کې دی، دا زما د تحصيلي دورې د وروستي کال محصول دی. د (۱۳۷۰) ل کال په وروستيو کې زه د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغه شوم. د تحصيل په بهير کې مې له څېړنې سره لېوالتيا درلوده، د تحصيل پر همدې وروستي کال مې د لنډيو په باب دغه لنډه ليکنه او څېړنه وکړه، له (۱۳۷۰ل)څخه بيا تر (۱۳۹۳ل) کال پورې دادی (۲۳) کاله تېر شول، په دې بهير کې مې د بل هر هېوادوال په شان د ژوند ډېرې سړې تودې تېرې کړې، مهاجرتونه، جنګونه، ستړياوې او ستومانۍ، تکليفونه مو ټول يو بل پسې تېر کړل.

کله چې افغانستان کې نسبتاً ارامي او سوکالي راغله، نو بيا پر نورو ګڼو ټولنيزو، سياسي او رسمي چارو مصروفه شوم، د ليکوالۍ ځای راډيويي او ټلوېزيوني او پارلماني بحثونو ونيو. دا اثر چې مې هغه وخت ليکلی و، نو ځان سره مې ساتلی و، څو کاله دمخه چې مې د کور لوښي او زاړه کتابونه بيا له سره منظمول، نو دا کتابګوټی مې يوځل بيا لاس ته راغی، يون ته مې ورکړ چې يوځل يې وګوري او اصلاح يې کړي. کله چې د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګې د کتابونو د چاپ لړۍ پيل کړه، نو له ماڅخه يې د چاپ لپاره ددې کتاب غوښتنه وکړه. زه که څه هم په دې پوهېدلم چې دا کتاب تر چاپ دمخه پوره سمون، زياتونې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بشپړتیا ته اړتیا لري او دا مهال زه هم له ګڼو مصروفیتونو سره مخامخ یم او ددې مجال راسره نه شته چې دا کتاب بشپړ کړم، خو چاپ ته مې ځکه زړه ښه کړ چې د الله(ج) له کلام (قران کریم) پرته نور هېڅ کتاب بشپړ، پوره او کره نه دی. بله خبره دا وه چې دا کتابګوټی زما د تحصیل د دورې محصول دی، نو ځکه مې د هغه وخت د یوه تصویر په توګه په خپل همغه پخواني شکل پرېښود ، هیله ده درانه لوستونکي به راته ددې اثر نیمګړتیا وښيي او ددې کتابګوټي ځینې برخې که لوستونکو ته ګټورې تمامې شي، نو دا به زما لپاره د ډېرې خوشالۍ ځای وي.

د افغاني فرهنګ د لابډاینې په هیله

ارین یون

په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو استازی

۱۳۹۳ ل کال

کابل- افغانستان

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

هغه طبیعت چې مور په کې ژوند کوو، د رمزونو او عجایبو طبیعت دی او د طبیعت پر رمزونو پوهېدل خلاق فکر او رڼې سترګې غواړي. خدای پاك په بېلا بېلو سیمو کې بېلابېل وګړي خلق کړي دي، ډول ډول خصلتونه یې ورکړي دي، د مینې، عاطفې، دښمنۍ او کینې ځراغونو زړي د هر چا په زړه کې راټوکېدای شي. په دې دنیا کې داسې ملتونه هم شته چې د سوکالۍ سیندونه ترې تاو دي، د ژوند ګلابونو ورته وخت پر وخت شونډې پرانیستي، خو د ریاضیت او سختۍ دلمبو ځاځکي یې هېڅ کله په زړه نه دي اورېدلي، داسې ملتونه هم شته چې د ژوند په اوږدو او د تاریخ په پوړیو کې بې له کاڼي پرته په بل شي یې پښې نه دي لګېدلي، د اورونو او دردونو موسمي بارانونه وخت پر وخت پرې را اورېدلي، د ژوند خواږه یې په ترخو کې داسې حل شوي چې هېڅ تصور یې نه کېږي، خو د پت، عفت او غیرت د شملې ګل یې لا هم هغسې شونډې سپړي، خزان، باد او باران، توپان او سیلۍ نه پېژني. پښتون ملت هم په دنیا کې داسې یو ملت دی چې په دې لاندې او وروستۍ کټګورۍ کې راځي، که د خپل هېواد تاریخ ته نظر وکړو، نو د تاریخ په زړه کې به داسې کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

محدوده دوره پیدا کړو چې هلته دې پښتنو د سوکالۍ او ارامۍ خوب کړی وي.

هر یرغلګر چې په خپل مټ کله د باور هیله پیدا کړې، نو زموږ هېواد ته یې شونډې څټلي، خو پرته له دې چې د افسوس، پرېشانۍ او پښېمانۍ لاسونه ومروړي، نور څه په لاس نه ورځي.

له چنګېز خان، هلاکو، مغلو، انګرېزانو نه نیولې او بیا په اوسني عصر کې روسانو ټولو زموږ د خاورې او پښتون ولس د توري مزه څکلې ده.

دښمنانو چې زموږ د غیرتي ولس هېڅ ډول بریاوې د سر په سترګو نه شي لیدلی او نه یې زغملی شي، نو د هغوی د معنویت په لوټولو او سوزولو یې لاس پورې کړ. زموږ د خلکو ډېره تاریخي شتمني یې له خاورو سره برابرې کړې، ډېر اثار یې د اور لمبو ته وسپارل او ډېر یې له ځان سره یوړل. خو له دې سره سره زموږ د ولس ځینې داسې فرهنګي میراثونه لاپاتې شول چې موږ ته ډېر ارزښت لري. ددې ډول فرهنګي شتمنیو له جملې څخه یو هم لنډۍ دي چې ولسي مرغلرې هم ورته وایي.

لنډۍ د پښتون ولس د فکر وړانګې دي.

لنډۍ د عاطفې او احساساتو او فکر ځلېدونکې مرغلرې دي.

لنډۍ د پټو دردونو او زخمي زړونو درمان او د مرحم پټۍ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډۍ د هغو پېغلو چې د اسارت سیورى یې ځواني خوري، د پټو دردونو او اندېښنو انځورونه دي.

لنډۍ د رزم او بزم د مورچل ترانې دي.

لنډۍ د ملالو له خولې راوتلي د اور هغې لمبې دي چې د میوند په دښتو کې د انګرېزانو پر روحیاتو اور بلوي.

لنډۍ زموږ د خلکو د بې تکلفه ولسي ژوند ځلانده هېنداره ده.

لنډۍ زموږ د کلیو، هوجرو او دېرو ګاڼه ده.

لنډۍ د احساس هغه پلوشه او د مینې هغه لمبه ده چې له یوه زړه نه وځي او بل کې ځاى نیسي.

لنډۍ د انساني مینې د تلپاتې شعرونو نوم دى.

لنډۍ د نفس د تذکیې او روحیاتو د وینځلو درمل دي.

لنډۍ د یو مین مسافر د اسوېلو تلپاتې نښه ده.

لنډۍ زموږ د جرګو او مرکو مالګه ده.

لنډۍ د بې ننګو او بې غیرتو د غندنې یوه ځلېدونکې پاڼه ده.

لنډۍ د ګودرونو، مازیګرونو، منګیو او اتڼونو تابلو ده.

لنډۍ زموږ د ولس د پروني تاریخ انځور او د راتلونکي لپاره الهام دى، لنډۍ مینه ده، عاطفه ده اور دى او وږمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډۍ د کوم وزیر اکبرخان توره ده چې د کوم مکناټن تر ستوني وځي.

لنډۍ د پښتني جنت د حرم د ښاپېریو په شونډو جوړ د خبرو ګل وییونه دي.

لنډۍ د زماني روح دی، چې تېره له اوسني او اوسنۍ له راتلونکي سره وصلوي.

لنډۍ د کاڼي کرښه ده چې له منځه تلل یې ګران دي.

لنډۍ په سکڼي ماښام کې د یتیمانو ((هغه چې د ماښام ډوډۍ له اوښکو سره خورینه)) د سپینو او ځلېدونکو اوښکو رڼا ده.

لنډۍ یو امو عاطفه او یو اباسین احساس په ځان کې لري.

لنډۍ د یو قسم خوړلې ناکامې میني فریاد دی.

لنډۍ د غرو د کوچیانو ((چې د سحر اور یې بلېږي دوی ترې ځینه)) د زړه اواز دی.

لنډۍ د جنګ، مېړانې او نارینتوب سرکښه څپه ده.

لنډۍ د کوم خوشال د رزم او بزم د شعري رباب نغمه ده.

لنډۍ د کوم مغلي توپان په مقابل کې د کوم یاغي (روښان) د ویني جذبه ده.

لنډۍ د کوم رحمان د عزم، حلم او زغم ډیوه ده.

www.melitahrik.com 0777 400 118

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډۍ د کوم (اورنګ) په جیلونو کې د کوم (هجري) د وینو سره لیکه ده.

لنډۍ د کوم (جمال) د منطق توره ده.

او بلاخره لنډۍ د انساني مینې او دردونو د بیان یوه داسې وسیله او د محبت یوه داسې پلوشه ده چې انساني روح ته تسکین ورکوي او د غمونو بار یې له اوږو پرېباسي.

که څه هم لنډۍ یو داسې بحر دی چې پولې نه لري، د ټول عمر لپاره که یو څوك په کې وګرځي راوګرځي بیا یې هم سرحد نه شي پیداکولای، خو زه دلته غواړم په لنډ ډول د لنډیو پر شکل، محتوا او ځینو برخو لنډې څرګندونې وکړم.

په درنښت

ارین مومنده

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي

د پښتو څانګې د څلورم ټولګي محصله

www.melitanik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د لنډیو ویونکي

لنډۍ زموږ د شفاهي ادب او زموږ د پښتني فولکلور د شتمنۍ یوه مهمه برخه ده. لنډۍ هغه اشعار دي چې شاعر يې معلوم نه دی. د ټول ولس ګډ مال دی او د پښتنو د نرو او ښځو د احساساتو هنداره ده. لنډۍ د پښتنو له ژوند نه راوتلي دي، د دوی د ټولنيز جوړښت، نرۍ ليد، ملي تاريخ، رزمونو، بزمونو، کړو وړو، عاداتو، رسمونو، رواجونو، احساساتو، عواطفو، خيالونو او رنځونو بيان په کې په ډېره ساده، ښکلې، مهذبه او صادقانه بڼه شوی او ددوی د ټول ژوند رښتيني انځورګرې او ترجماني دي. لنډۍ په هره سيمه کې اوربدل کېږي او کله چې په يوه سيمه کې وويل شي، بلې سيمې ته بيا د سترګو په رپ کې رسېدلې وي، پرته له دې چې خپل اصالت او ملي رنګ يې له لاسه ورکړی وي.

لنډۍ زياتې د ښځو له خوا ويل شوې دي او څرنګه چې د ښځې وينا نسبت نارينه ته ډېره لطيفه او موثره ده، نو ځکه يې خوند هم د ولسي شعرونو تر نورو ډولونو زيات دی. د لنډيو ستر اهميت دا دی چې د هغه سندريز خصوصيت او اهنګ لرونکې فطرت د نړۍ په ټولو فولکلوري شعرونو او سندرو کې ممتاز دی او ساری نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لنډیو لنډه تاریخچه

د ولسي سندرو (لنډیو) عمر حتی په اټکلي توګه هم معلومېدی نه شي، خو دومره ویلی شو چې دا نوعه له ډېرې پخوا راهیسې موجوده وه، مثلاً یوه مشهوره لنډۍ ده، چې زر کلن قدامت لري دا لنډۍ د (خالو) معشوقې ویلې ده. (خالو) د (غزنوي محمود) له پښتنو سپه سالارو څخه یو مشهور سپه سالار و، کله چې دا پوه شوه چې خالو له خپل لښکر سره له جنګ نه بېرته راستون شو، نو دا لنډۍ یې وویله:

چې د خالو لښکرې راغلې

زه به ګومل ته د خپل یار دیدن ته ځمه

له پورتنۍ لنډۍ څخه دا ښکاري چې لنډۍ زر کاله دمخه یقیناً موجوده وه، ښایي تر دې لنډۍ څخه مخکې ډېرې نورې لنډۍ هم ویل شوې وي چې د هر تاریخي اسناد په کې خوندي وي، خو اوس یا بېخي له مینځه تللي یا یې بڼه او سټه اوښتې دي. له بلې خوا په لنډیو کې د پښتنو ژوند د اجتماعي او اقتصادي اړیکو څرګندونې شوې دي، په مختلفو برخو کې یې د ژوند عکاسي کړې او حتی د هېواد د تاریخ ډېرې حساسې مرحلې هم په لنډیو کې رانغښتل شوي دي، لکه:

که په میوند کې شهید نه شوې

خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه لنډۍ چې د میوند د تاریخي پېښې څرګندونه کوي، زموږ د خلکو د حماسو په تاریخ کې لوړ مقام لري، چې اوس دغه لنډۍ زموږ تاریخ ته ورداخله شوې او د تاریخ جز ګرځېدلې ده، نو دغسې نورې لنډۍ هم لرو چې په تاریخي لحاظ ډېر اهمیت لري، ډېرې بار ارزښته تاریخي پېښې موږ ته منعکسوي او ډېر معتبر اسناد موږ ته په لاس راکوي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لنډیو نومونه

لنډۍ ته ټیکۍ، مصرۍ، ټپه، اواز، بدله او سندره هم وایي او دا بېلابېل نومونه د بېلابېلو ځایونو په اعتبار دي. یانې د پښتنو په یوه سیمه کې ورته لنډۍ وایي او بله کې ورته ټپه وایي او کله چې لنډۍ په سروکي او نیمکۍ کې راشي، نو په دغه صورت کې ټیکۍ ورته هم وایي. دلته به د لنډیو نومونو ته لنډه کتنه وکړو:

۱- **لنډۍ**: د کندهار او پکتیا خلك ورته لنډۍ وایي دا په دې مانا چې لنډۍ په کندهار کې یو ډول مار دی که سرې وچیچي ورڅخه نه رغېږي، یانې په لنډیو کې دومره شعري قوت موجود دی، چې تاثیر یې له هغه مار سره چې نوم یې لنډۍ دی برابر دی، دغه راز کېدی شي لنډۍ د خپل لنډ ترکیب او جوړښت له مخې هم لنډۍ وبلل شي.

۲- **مصرۍ یا ټپه**: د یوسفزیو ټبر او هغه پښتانه چې په پېښور کې اوسېږي هغوی یې د مصرۍ یا ټپې په نوم یادوي، چې دا هم علت لري او هغه داسې چې مصرۍ په پښتنو کې یو ډول مشهوره توره ده چې په جګړو کې ورڅخه ډېره استفاده شوې ده، یانې زموږ لنډۍ د مصرۍ تورې غوندې اغېزه ښندلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳- ټیکۍ**: د اصلي مطلب په مانا ده، یانې زموږ په هره لنډۍ کې دا توان موجود دی چې په ښه هنري شکل کې زموږ د مطلب ټکي بیان کړي، په دغه وجه د مشرقي او وردګو خلك ورته ټیکۍ وایي.

یادونه باید وشي چې مصرۍ یا ټپه او ټیکۍ معیاري نومونه نه دي ټول پښتانه هغه نه پېژني.

څرنګه چې مو پورته یادونه وکړه، دغه نومونه په یوې مشخصې سیمې پورې تړل کېږي، یوازې (لنډۍ) نوم دی چې ټول پښتانه یې پېژني.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم څپرکی

## د لنډيو شکل او محتوا

د شکل له مخې لنډۍ يو ثابت شکل لري چې له هغه څخه تغير نه خوري او که يې وخوري، نو جوړښت يې ورانېږي او بيا نو لنډۍ لنډۍ نه ګڼل کېږي، خو د محتوا له مخې لنډۍ پر بېلابېلو محتوايي برخو وېشل کېږي چې د ژوند هره برخه بيانولای شي او هر فکر په کې بيانېدی شي. دلته به په لنډيز سره دواړو ته کتنه وکړو:

۱- **شکل**: لنډۍ عادتاً دوه مسرۍ لري چې لومړۍ مسره يې نهه څپې او دويمه مسره يې ديارلس څپې لري، چې دا قانون پر ټولو لنډيو تطبيقېږي، د بېلګې په توګه به څو لنډۍ وګورو.

په سترګو بيا د رنجو زور که

د مسافر جانان دي غږ دی چې راځينه

اوله مسره: په_ستر_ګو_بيا_د_ رن_جو_ زور_ که

دويمه مسره: د_ م_ سا_فر_جا_نان_ دي_ غږ_ دی_ چې_ را_ځي _نه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته لنډۍ کې مو ولیدل چې لومړۍ مسره یې نهه څپې او دویمه مسره یې دیارلس څپې لري.

که د یار غږ راباندې وشي

مال به خیرات کړم سر به زېری ورکومه

اوله مسره: که_د_یار_غږ_را_بان_دې_و_شي.

دویمه مسره: مال_به_خی_رات_کړم_سر_به_زې_ری_ور_کو_مه.

همدغه ډول که هره لنډۍ وګورو او پر څپو یې ووېشو لومړۍ مسره یې نهه او دویمه مسره یې دیارلس څپې لري.

دغه راز په پښتو لنډیو کې د خج موضوع داسې ده چې لومړۍ مسره یې چې نهه څپې لري پر خلورمه او اتمه څپه یې خج راوړل کېږي. او په دویمه مسره کې چې دیارلس څپې لري پر څلورمه، اتمه او دولسمه څپه خج راوړل کېږي.

د بېلګې په توګه لاندې لنډۍ ګورو.

که پسې مرم مرګ مې پرځای دی

U / UUU / UUU

زما پر سر یې جېل خانې منلې دینه

U / UUU / UUU / UUU

www.raelitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځه راځه دیدن مې وکه

U / U U U / U U U

د سرتختې راباندې ږدي پناه يې کړمه

U / U U U / U U U / U U U

ستا له يارۍ به توبه نه کړم

U / U U U / U U U

که جلادان مې سر له تورو سره وړينه

U / U U U / U U U / U U U

www.melitahrik.com 0777 400 116

## ۲- د لنډيو محتوا:

پښتانه زلميان او پېغلې چې د مينې او محبت لومړى څرك حس کاندي، نو د مينې سوز او درد لومړى ځل په لنډيو راکموي او خپل ځان په ډېر اخلاص دغو ولسي سندرو ته تسليموي او د خپلې ټولنې پېښې، غمونه او کړاوونه په سندرو او لنډيو کې ځايوي.

مينې دې داسې کانې وکړې

لکه قصاب پر لاره ځم ګوتې شمېرمه

د مينې اور مې په زړه بل دی

لوګی يې خېږي پرې اخر به لمبه شمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مينې اور دی چې يې ګورې

پتنګ په سرو لمبو کې ځان ستي کوينه

د تورې زخم جوړېږي، خو هغه زخم چې د دنيا په طبيبانو نه جوړېږي او هغه غم او درد چې په هېڅ درد و غم برابر نه دی، هغه بېلتون دی، هغه د بېلتون غم دی، هغه بېلتون چې دوه مين يو له بله جلا کړي هغه ترټولو غمونو سخت غم دی، بېلتون ناسور زخم دی، بېلتون د مينانو تر ټولو غټ دښمن دی، سوداګري کوي او تل د مينانو زړونه سوري کوي، نو ځکه له بېلتون څخه ځورېږي او وايي:

بېلتون د کلي په منځ راغی

نارې وهي چې دوه مين جلا کومه

بېلتون د خلکو د خندا کړم

ځکه هر وخت ګرېوان شلېدلی ګرځومه

بېلتون د زړه په سر سوری کړم

په تور لحد کې به ښېرا ورته کومه

بېلتون د مينې سودا ګر دی

د اشنا قدر په اشنا پيدا کوينه

سوی زړګی، د ارمان نارې، د شهيد له هرې سلګۍ سره ارمان، د ديدن په تمه د عمر بې صبرانه تېرېدل او قيامت ته د هغې

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېښودل، پر ځان تورې خاورې اچول، بې دیدنه نه رغېدل، پر لارو، غرونو، دښتو، کلیو او بانډو باندې د دیدن په تمه عمر تېرول دا ټولې د اشنا د مینې او محبت د سختې او ستونزمنې لارې او پړاوونو د وهلو لپاره دي. په همدې هیله شپې سبا کوي، میاشتې کلونه او عمرونه تېروي یا د دیدن او ارمان لپاره پر ځان د مسافرۍ او ستړیاوو سختې ورځې شپې سبا کوي، خو که چېرته ورته د یار د لیدو خبر راشي، نو د خپل د ځنکدن سلګۍ یې هېرې شي.

دیدن دې یاره په قیامت دی

په دې دنیا مو دیدن ونه شو مینه

دیدن دې باغ زړه مې بلبل دی

بېلتون باغوان بلبل په باغ کې نه پرېږدینه

دیدن په غټو سترګو وکړه

سبا به ځمه نه به وکړو دیدنونه

دیدن په سین کې را لاهو کړه

د تورو زلفو جال په لاس ولاړه یمه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سلګونو ښځینه لنډۍ شته چې د نارینه سالارۍ پر ضد د پښتنې ښځې اعتراض او تاریخي نیوکې بیانوي، چیغې وهي او د ځان په هکله د نارینه و ظلم او ستم بربنډوي.

پښتون ولس کې لاتراوسه پورې له ښځې سره د هغې د حقوقو په تناسب سم چلند نه کېږي. د وګړو، کورنیو او قبایلو ترمنځ د بدیو مرګونو، تېریو او دښمنیو په بدله کې د ښځې ژوند د قربانۍ تر پولې رسېږي.

ددې ترڅنګ نور ګڼ شمېر ناوړه کړه وړه دي چې د ښځې ژوند له ستونزو او کړاوونو سره مخامخوي، نو ځکه خو ښځه د همدې ترخه او انساني ضد موقعیت د رسوا کولو په خاطر او د نارینه وو د ناوړه چلند پر ضد د خپل تاریخي اعتراض د بیان لپاره دا ښکلې او زړه وړونکې او سوچه لنډۍ د پښتنو پرګنو حافظې ته ورشیندي.

صورت مې خپل واك يې د بل دی

صورته خاورې شې چې نور دې واك کوینه

همزولو غم راسره یو کړئ

پلار مې ظالم دی په بوډا مې خرڅوینه

خدایه د کونډو پناه ګیر شې

چې میراث خور يې په لېوانو ودینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ویل د زړه یار به مې خپل شي

مرګ مې مېلمه شو د ښامار په برخه شومه

په نیمه شپه سوې نارې شوې

مور له لورانو بېلوي کوکې وهینه

په لنډیو کې (باد) شخصیت پیدا کوي، مګر داسې شخصیت پیداکوي چې هغه کولی شي اوږدې لارې وهي، هغه کولی شي د ګلونو ورمې او د لونګو خوشبویي د نړۍ له یوې برخې نه بلې برخې ته ولېږدوي، د عاشقانو هیلې او غوښتنې راتولې او فریادونه یې له غرونو هغې خواته له سیندونو پورې هغو لرې ځایونه ورسوي چې د مینې له لېوالو سره د دوی په هلو ځلو، ژړا او خنداوو کې ګډون او د همدې لېوالو په خاطر کله په لوړو غرونو کې د یوه عاشق زلمي د پګړۍ شمله خوځوي او کله د کلا پر کنډو باندې د مینې پېغلې په سالو کې انځوربږي او هغه ورپورې بیا د ښکلو تصاویرو دنیا لا ښکلې او رنګینه کړي.

هلکه ځه د بر په نخرو ځه

په لویو غرو ځه چې شمله دې باد وهینه

په کنډو اوړې پناه کېږي

دا سور سالو دې باد وهي ژړا راځینه

د سحرا باده راته وایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما لالی د کومو غرو مزل کوینه

د دامان باده یار ته وایه

د ځنکدن سلګۍ وهم تا یادومه

باد د لیلی د کلي راغی

په سحرا پلن شول د لونګو درملونه

په لنډیو کې (کاغذ) د نیم دیدن ځواب دی، نو ځکه مینان د هغه قدر کوي، ځکه چې همدا کاغذ دی چې د مسافر اشنا احوال رارسوي، نو ځکه مینان هغه کله له شاهین سره تشبه کوي چې الوزي او دیو یار احوال بل یار ته رسوي او کله یې هم له هغه قاصد سره تشبه کوي چې د یار هغه لیك چې د اوښکو او د زړه په وینو لیکل شوی دی، بل یار ته رسوي او وایي چې:

کاغذ د زړه په وینو لیك دی

اه مې پرې وکېښ ځکه تور یې دي حرفونه

کاغذ لیکم اوښکې مې څاڅي

د اوښکو رود خبرې واړه رانه وړینه

کاغذه ورشه په سلام شه

بیا په کلام شه چې د یار سلام کومه

کاغذه ژر راپسې راشه

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې یار د ما په حق کې څه ځواب کوينه

کاغذ دې يو پر بله راغی

د مازيگر کاغذ دې نوکې نوکې کړمه

کاغذ د نيم ديدن ځواب دی

په ما موقوف شول د اشنا ټول ديدنونه

دغه راز په پښتو لنډيو کې (ګل) ډېر زيات ستايل شوی دی دا ځکه چې مين د خپلې محبوبې بشر د ګل په څېره کې وينې او حتی د خپلې محبوبې مخ ورته د غاټول او ګلاب له ګل څخه نازکه ښکاري. دغه راز دوی ځکه ګل ستايي چې محبوبه يې هغه په خپل اوربل کې ټومبي، نو ځکه د پښتو يو زيات شمېر لنډۍ د ګل په هکله ويل شوي دي.

ګل په اوربل باندې مزه کا

تا په خيالي اوربل کتار کړه ژېړ ګلونه

ګل به دې حسن ته حيران شي

که دې د باغ په لوري تګ وشي مينه

ګلان له خاورو پيداکېږي

زما لالی تر ګل نازك خاورو له ځينه

ګلو کې ستا بشر ښکارېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه سپرلي ته زما زړه دعا کوينه

ګلونه ځکه په خندا دي

چې شاه ليلا په باغ کې سترګې توروينه

ګلاب به مخ پر برخه مينځي

زه د ګلا ب يارۍ کې اوښکې تويومه

په لنډيو کې د (اختر) ورځې هغه بختورې ورځې دي چې په دې ورځو کې ټول خلك خپل خفګانونه هېروي او خپلې خوشالۍ خپلو کې وېشي، په دغو ورځو کې د بېلتون پر کور د غم باران اوري، دغه ورځې د مرورو يارانو د ليدو ورځې دي، د دوه مينانو د ليدو ورځې دي، په دغو ورځو کې نجونې پښې او لاسونه په نکريزو سره، سره کوي او د نږدې او لرې دوستانو ليدو ته ځي، باغونو ته د زړه د خوشالولو او د مېلو جوړولو لپاره ځي.

اختره تل تر تله اوسې

چې د بېلتون په کور تر مرګه وي ويرونه

اختر ته ډېره خوشالېږم

زما د يار وعده اختر دی رابه شينه

اختر ته ځکه خوشالېږم

چې مرور جانان به ما پخلا کوينه

اختر دې تاته مبارك شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې لاس او پښې دې بې حنا اور لګوينه

اختر چې تېر شي بيا به راشي

دا د ځوانۍ عمر خو بېرته نه راځينه

د پښتني سيمې ګانې خورا زياتې دي، خو (پېزوان) او (چارګل) ډېر اهميت لري او په دې هکله پښتنو پېغلې ډېرې لنډۍ ويلې دي.

دوی له پېزوان او چارګل سره خبرې کوي د خپل زړه حال ورته وايي او کله کله يې ملامتوي او ښېراوې ورته کوي.

پېزوان يې پاس په شونډو سپور کړ

لکه ښامار چې خندنی دپاسه وينه

پېزوانه دومره غرور مه کړه

بهار پسې تل د خزان راځي بادونه

پېزوان يې تورو سترګو وخوړ

زه د نشتر تعويذ پېزوان له جوړومه

پېزوانه ستا په پرو غوڅ شوم

تر ژوندانه به مې روغ نه شي پرهارونه

چارګل په پوزه کړه خدای ياد کړه

بهار پسې تل د خزان راځي بادونه

چارګل دې غټ په پوزه ايښی

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ستا د چارګل پرې مې شونډې ژوبلوينه

په لنډيو کې (مازيګر) هغه وخت دی چې دوه ياران يو بل ويني او ګودر هغه ځای دی چې دوه ياران يو بل ويني، ځينې بيا مازيګر غندي، ځکه د يوې شپې خوشالي لري او ځينې وايي چې په مازيګر کې ښېرې ښې نه وي، ځکه چې ژر قبلېږي او ځينې په مازيګر کې په ګودر کې د يار ليدل اختر بولي او تل خدای(ج) ته د داسې اخترونو سوالونه کوي.

مازيګر تل لرې خاونده

چې مازيګر په ګودر وشي ديدنونه

مازيګر مه کړې لويه خدايه

يوه شپه يې خوشالي وي بيا غمونه

مازيګری دی ښېرې مه کړه

ته به د ناز ښېرې کوې رښتيا به شينه

ګودر له ځمه خوشالېږم

چې مې جانان کړلي لاړ کې سره ګلونه

ګودر دې عمر له اباد وي

مازيګري کې په کې تل وي اخترونه

ګودر بادشاه منګی وزير دی

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزیر همېش د خپل بادشاه سلام له ځینه

مازیګری دی قدم ورو که

په زړه ویشتلي به ښېرا درته کوینه

دغه راز په لنډیو کې له خپل (نصیب) څخه ډېرې شکوې او ګیلې شوي او د ټولو غمونو دردونو او بېلتونونو د رامنځته کېدو علت یې نصیب بللی دی او کله یې بیا هم خپل نصیبونه له هغو ګلانو سره تشبه کړي دي چې پر هغو خزان راغلی دی او هغه یې وچ، ژېړ او رژولي دي.

نصیب زما که مې د یار دی

په اور دې وسوځي د دواړو نصیبونه

نصیب مې ګل خزان پرې راغی

نرۍ نرۍ پاڼې یې باد په هوا وړینه

نصیبه څه درسره وکړم

په شنو توتیانو کې مې زاغ په برخه شونه

نصیب مې څه چارې راوکړې

په ژېړو ګلو لاس وهم اغزي راځینه

نصیبه ډېر درنه خفه یم

کله مې خان کله مې غره ته خېژوینه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسي شاعران د تورو شپو، تيارو، جونګړو، سپوږمۍ او ستورو رڼا او حال پر ژبه ښه پوهېږي.

هغوی د پېړیو اوږدې او ستومانونکې تیارې تر همدې نوراني او ځلېدونکي اسمان تر چتر لاندې زغملي او سبا کړي دي، لاتراوسه پورې د لوړو ژورو، درو، پراخو بيابانونو او شنو ځنګلونو پر لارو د سپوږمۍ تر څراغ لاندې تګ د هغوی د کار او شعر لپاره يواځينۍ ډيوه او د لارې مشال دی له همدې کبله په عاشقانه لنډيو کې (سپوږمۍ) هم د (باد) په څېر په خبرو راځي ژوندۍ بڼه پیدا کوي، د لنډيو د بې نومو شاعرانو د عواطفو نړۍ ته لار باسي او د عواطفو د نظيفو انځورګريو په افاده او انځورنه کې مرسته کوي.

سپوږمۍ په غره راپورته کېږي

چې مسافر په سيند ګډېږي غرق به شينه

سپوږميه تاته مې سلام دی

زما جانان به تاته ډېر کتلي وينه

سپوږمۍ ته سپينه سپينه اوړې

لکه ماهي چې په شودو غوټې وهينه

سپوږميه وسوزه ايرې شه

هغه ليلی چې تا ليده خاورو ته ځينه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

(تـوره)، (ننـګ)، (غیـرت) او (جګـړه) د پښــتني ښـځې لـه نظـره د نارینتوب د کمال پاخه پړاوونه دي، پښتنې ښځې د تجربو لـه مخې په دې نظر دي، هغه نارینه چې د پښـتونولۍ پـه معیـارونو برابـر نـه وي، یانې د سیمې او ولس د عزت او عفت ننګـه نـه کـوي، د مینـې دروازه، هدیره او نغرى نه ساتي، مېلمه نه پالي او د مېلمه عزت نـه کـوي، د مینــې د اعتمــاد او وفــا وړ نــه دى او هغــه څـوك چــې د پښــتونولۍ د پــت او ننــګ کلــك او وفــادار ملګــرى دى، هغــه د ستـایلو وړ دى. پښـتنې ښـځې پـه لنډیو د نارینـه مېړانـه سـتایي. د نارینـه شـجاعت او جنګـي قابلیـت تائیـدوي، دلتـه بـه څـو لنډۍ د بېلګې په توګه راوړو.

په وینو رنګ توره دې راوړه

راشه په سرو شونډو یې زه درپا کومه

که تور اوربل مې میراتېږي

په پښتو ننګ دى جانان نه منع کومه

په تور توپك ویشتلى راشه

چې پرهارونه دې ګنډم خوله درکومه

که په زلمو کې بریالى شې

قسم مې کړى د یارۍ لاس درکومه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

(سالو) هم په پښتو لنډیو کې ډېر یاد شوی دی او لنډیو ویونکي ډېر ځله د خپلې محبوبې سالو ستایلی دی او دغه راز د سره سالو راڅرګندېدل او د تیاره مازیګر په اوبو کې د اور په څېر د سالو د سره رنګ، انعکاس د سپېڅلي کلیوالې مینې مظهر دی، دلته عاشق د خپلې معشوقې تر سره سالو لاندې هر شی سور وینې، سیند سور، ګودر سور، اوبه سرې، داسې سرې لکه د اور لمبې، د مینې سوزونکې او ګرمې لمبې، داسې لمبې چې هر شی سېزي او هر شي ته خپل رنګ ورکوي.

په ګودر سور سالو ښکاره شو

ما وې په نورو اوبو اور ولګېدنه

سالو زما لپاره راوړه

ماته همزولې پېغورونه راکوینه

سالو کې پټه پټه راشه

باران ورېږي چې لمده نه شې مینه

سالو په سر امبل په غاړه

لیلی خیالي منګی په سر اوبو له ځینه

سالو په سر مخې له راغله

د زړه په سر یې سرې لمبې اوبو له ځینه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز په پښتو لنډيو کې له (موزي) څخه ډېره ګيله او شکوه شوې او هغه يې ډېر غندلی دی او د هغه له ژوند څخه د هغه په مرګ او د ځان په کنتون خوشاله وي.

دغه راز موزي هغه چا ته وايي چې هېڅکله له ځان څخه مېړانه نه شي ښودلای او هېڅوك ورته په درنه سترګه نه ګوري.

موزيګی بله توره وکړه

په ډېران مړ خر يې په توره ووهنه

د موزيګي نه کونډه ښه يم

توره څرخه به ګرځوم ځان به ساتمه

د موزيګي مېړانه ګورې

په شين کبل کې د مېږي نه مخکې شونه

د موزيګي نښه ښکاره ده

خولۍ يې څيرې ککرۍ لمر وهينه

اسمانه پرېوزې بخته واوړې

زړګيه وچ شې ما موزي ته ودوينه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درییم څپرکی

## د نړۍ له نورو مشهورو شعرونو سره د لنډۍ پرتلنه

پښتو لنډۍ د خپل جوړښت لـه مخې ډېر لنډ شعر دی، د نـړۍ پـه نـورو ژبـو کـې د داسـې شـعرونو نمـونې ډېـرې کمـې دي، يـوازې پـه روسي او جاپاني او ځينو نورو کمو ژبـو کـې داسـې شـعري فورمونـه شته، چې ډېر لنډ دي او له لنډۍ سره سيالي کولای شي.

پښـتو لنـډۍ د پښـتو ادب يـوه داسـې پانګـه ده چې د لـرې او بـرې پښتونخوا د خلکو شريك مال ګڼل کيږي او هلتـه او دلتـه د پښـتنو پـه ژبـه يوشـان جـاري دي. کـه د هغـو بحر تـال او تـول تـر نظر لانـدې ونيسو، هغه داسې مشخصات لـري چـې د نـړۍ پـه يـوه ژبـه کـې هـم دغه مشخصات او قواعد د ولسـي اشـعارو او سندرو لپـاره نـه شـو مشخص کولای.

د يـوه ولـس اشـعار او سـندرې د نـورو ولسـونو د اشـعارو او ملـي سندرو په قالب کې نه شو اچولی چې ښـه مثـال يـې د پښـتو لنـډۍ، نيمکـۍ، بګټـۍ او نـور دي. دلتـه د موضـوع د زيـات وضـاحت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

صراحت لپاره د پښتو لنډۍ او د روسي ولسي ادب (چستوشکي) ترمینځ یوه لنډه مقایسه او پرتلنه وړاندې کېږي:

روسي (چیستوشکي) او پښتو لنډۍ د هنري ماهیت او موضوع د پراختیا او د محتوا د عمومیت او د احساساتو او عواطفو د ځرګندونې ښې وسیلې دي. د ژبې د روانۍ او د فورم د سادګۍ له امله هلته او دلته د دواړو ټولنو په فولکلوریکو ادبیاتو کې خاص ځای او ځینې ورته خوصیات لري.

چستوشکي د روسیې د خلکو د تغزلي (لیریکو) سندرو یوه قافیه لرونکې سندره ده چې د مضمون د محتوا له کبله ډېره متنوعه، د استعمال له مخې خورا زیاته مروجه او د فورم له مخې خورا لنډه او معمولاً له څلور بندونو (مسرو) څخه جوړېږي.

چیسوشکي د ولسي سندرې او ملي رباعي مانا افاده کوي.

د اصیلو فلکلوریکو سندرو په توګه چیستوشکي د روسي د لویې ټولنې په هره سیمه او هر ایالت کې د خلکو ترمنځ رواج لري او د پښتو لنډیو په څېر په هره سیمه او هر ځای کې د خلکو له خوا ویل کېږي. چیسوشکي د پښتو لنډیو په څېر په هره سیمه کې په خاص تال او اهنګ ویل کېږي او لکه دلته چې د لنډیو ویل په هره سیمه: تیرا، وردګو، ننګرهار، پکتیا، کندهار او نورو کې د اهنګ، کمپوز او غاړې له مخې څه ناڅه سره توپیر پیداکوي، همدغه څېر روسي چیستوشکي هم په هره سیمه کې په خاص وزن

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اهنګ ویل کېږي او غالباً هماغه سیمې ته په منسوب نامه یادېږي.

چیستوشکي ولسي منشا نه لري، دغه اصطلاح ادبیاتو راویستې. دا اصطلاح د روسیې د ولسي سندرو یوه ټولوونکي او محقق راویستې ده، دغه ولسي سندره اوس تقریباً هر ځای د (چیستوشکي) په نامه یادېږي.

د چیستوشکي جوړونکی او ویونکی د پښتو لنډیو د جوړونکي په څېر کلیوال ځوانان او په تېره بیا پېغلې دي، چې د فلکلوریکو سندرو په عنعنوي قانون وزن او قافیې لري. د نورو پخوانیو فلکلوریکو سندرو پر خلاف چیستوشکي د ځانګړو سندرغاړو له خوا جوړېږي بیا د ټولنې په ولسي سندرو کې ځای نیسي او ټاکلي سندرغاړي ته یې د جوړولو نسبت نه کېږي.

دلته د چیستوشکو د منظومې دوه مثالونه وړاندې کوو.

د زړه راز مې دی لیکلی

استوم یې لرې ځای نه

زه وم ناسته په غرمه کې

ما پټ راز لیکه اشنای ته

»»»

د نور ګڼ ځنګله ها خوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريې د پرش دريو لاريو شاته

د لالي د ګارمون ساز دی

او دده ډېر خوږ اواز دی

***

لنډۍ ته ورته د نورو ملتونو ولسي شعرونه لکه په دري ژبه کې چاربيتي د روسي ژبې چيستوشکي او د اسپانوي ژبې (کاتی جاندو) زياتره بې منظرې اوازونه دي. په دې اوازونو کې د انسان په تېره بيا د عاشق او رټل شوي انسان اوازونه راغبرګ شوي دي. په دې شعرونو کې د منظرې او تصوير جوړولو لور ته ډېره پاملرنه نه کېږي، د هغو لپاره نه باران شته نه ږلۍ نه سره غرمه، نه شين سحر، نه غرونه او نه بيابانونه.

ګارسيالوديکا: - د اسپانوي ژبې (کاتي جوندو) په باب وايي: ((په داسې حال کې چې زموږ د ټاپو وږمې زياتره اوازونه ددې قدرت لري چې هغه منظرې موږ ته په زړه کړي چې دغه اوازونه په هغوی کې ويل کېږي.

خو ځينې نور بيا (کاتي جاندو) لرغوني اهنګونه بولي.

خو لنډۍ لکه کاتي جاندو بيا مطلق بې منظرې اوازونه نه دي، بلکې کله کله د انسان په خبرولو کې له طبيعت او د هغه له ښکلو مظاهرو څخه مرسته غواړي او دی د همدې مقصود لپاره د منظرې په جوړولو لاس پورې کوي. مګر په دې منظر کې نه حل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي او هغه د انسان د باطني غوښتنو او ننڼيو شخړو د افهام د بشپړه توب لپاره استعمالوي او شکل منونکی تجسم دومره نه رابرسېره کوي چې د لنډۍ اصلي موضوع (انسان) او د هغه د احساساتو بيان د شکلونو او منظرو تر تجسم جار کړي او فرعي موضوع د اصلي مضمون ځای ونيسي. په لنډيو کې ډېر څه ياد ېږي. دا ګرد سره د انسان د مينې او محبت د احساس د لا زياتولو او لا څرګندولو خدمت ته راکاږي. په لنډۍ کې دغه شکل منونکي مادي واقعيتونه داسې تبارز نه شي کولای چې خپل مخاطب د شعر له اصلي موضوع واړوي.

سبا به بيا کډې بارېږي

د دښت ګلان به ستا لمنه بويوينه

په پورتنۍ لنډۍ کې د کډو بارېدل، پر ګلو باندې د کوچۍ د اوړدې لمنې لګېدل، د پراخ بيابان او اوږدو لارو تصوير، د وطن پسرلی، عشق، طبيعت او د عاميانه مينې صداقت او معصوميت او د مينې لېونتوب او هيجان ډېر ښکلي افاده شوي دي. له دې بحث څخه داسې نتيجه اخيستل کېږي، که څه هم لنډۍ د نورو ملتونو د مماثلو حماسي شعرونو په څېر ځان د انسان او د هغه د احساساتو بيان ته وقفوي، خو مطلق بې منظرې اواز نه دی، بلکې له تصوير او طبيعي تجسم څخه هم کار اخلي او همدا د لنډۍ او اسپانوي کاتي کاندو او نورو ملتونو د فلکلوري شعرونو د توپير پوله ده او له همدې کبله موږ خپلې لنډۍ د شعري تخنيك په لحاظ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر منظره لرونکو منظره يي لنډيو باندې وېشلای شو او بايد يې ووېشو.

جاپاني هايکو هم د نړۍ په ډېرو لنډو شعرونو کې راځي، ټولې درې مسرې او (       ) څپې لري.

دا شعرونه منظره يي هم دي او بې تصويره هم. په جاپاني ژبه کې ډېرې مشهورې دي. له پښتو لنډيو سره سيالي کولای شي، خو کم خوند او اهنګ چې د وزن او اهنګ له مخې په پښتو لنډيو کې شته د نړۍ په نورو ژبو کې يې سارى نه ليدل کېږي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## د لنډیو په هکله لیکل شوي اثار

د لنډیو په برخه کې ډېر اثار لیکل شوي، خو کوم اثار چې چاپ شوي او ماته معلوم دي، د هغو یوه لنډه یادونه کوو.

د یادولو وړ بولو چې ځینې فلکلوري کیسې چې د ضرورت په وخت کې په کې لنډۍ راوړل شوي دي او بیا د کتاب په بڼه چاپ شوي، هغه هم په دغو یادو شویو کتابونو کې راوړل شوی دي.

### ۱- پښتني سندرې، لومړی ټوک

مهتمم: محمد دین ژواك

خپرونکی: پښتو ټولنه

د چاپ نېټه، (۱۳۴۴) ل کال زمری د کابل عمومي مطبعه.

موضوع د پښتو ولسي ادب: لنډۍ، بابولالې، د اتڼ نارې، د شین خالۍ نارې او د کاکړو غاړې په کې راغلي دي، چې د لنډیو شمېر یې تر اتو زرو څخه اوړي، دا د پښتو ادبیاتو د شفاهي ادب یوه لویه مجموعه ده.

### ۲- د پښتونخوا د شعر هاروبهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولونکی: ډارمسټر فرانسوي

خپرونکی: د پاریس ختیځ ټولنه.

د خپرېدو کال (۱۸۸۸)م د پاریس سرکاري مطبعه.

موضوع: په دې اثر کې د پښتو لنډۍ، غزلې، چاربیتې، متلونه، کیسې، سندرې او نور راټول شوي دي.

## ۳- د خلکو سندرې

لیکوال: حبیب الله رفیع

خپرونکی: د افغانستان علومو اکاډمي او ادب ټولنه

د خپرېدو کال (۱۳۴۹)ل دولتي مطبعه.

موضوع: د پښتو د ولسي ادب د مینډو سندرې، د وړو شاعري، کیسې د لویانو سندرې، محلي پارچې د اتڼ نارې، بابولالې، لنډۍ، خالونه، سروکي، منظوم متلونه، د هوتکو نارې، کاکړۍ ساندې، غړونه، د مروتو کسرونه، مقامونه، چاربیتې، بدلې، بګټۍ، داستانونه او مشاعرې له پېژندګلوۍ او نومونو سره په کې راغلي دي او د ولسي ادب د څېړونکو مرستندوی دي.

## ۴- ملي سندرې

لیکوال: محمدګل نوري

خپروونکی: پښتو ټولنه

www.melimahik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپرېدو کال (۱۳۲۳)ل دولتي مطبعه

موضوع: پښتو لنډۍ، بابولالې او اتڼ نارې، د استاد نوري له خوا راټولې شوې دي د لنډیو شمېر يې (۳۰۰۰) او د اتڼ د نارو شمېر يې (۱۰۳) او د بابولالو يې (۱۱۲) ته رسېږي، وروسته ددې کتاب پر بنسټ د پښتني سندرې لومړی ټوك د زياترو مخونو او زياتو شمېر لنډیو په لرلو سره خپور شو (وګورئ پښتني لنډۍ لومړی ټوك)

## ۵- پړونی

مولفه او راټولونکې: مستوره شال

مهتمم: نېك محمد پکتيانی

د خپرېدو کال: (۱۳۳۳) دوه زره ټوکه

موضوع: د پښتونستان د ملي موضوع په باب څو وېناوې او د مستورې او څو نورو پښتنو مېرمنو، لکه حليمې، زينتې مومندې، هاجرې، شعرونه، سندرې او يو شمېر لنډۍ په کې راغونډې شوې دي.

## ۶- ګل ټپې لومړی ټوك

ټولوونکی: ګل محمد خان کاکړ

د خپرېدو کال (۱۹۶۱)م اسلاميه پرېس کويټه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضوع له (الف) څخه تر (ی) په ترتیب سره زرګونه پښتو لنډۍ په کې راغونډې شوي او خوندور اثر دی.

## ۷- ګل ټپي، دويم ټوك

ټولوونکی: ګل محمدخان کاکړ

د خپرېدو کال، نه لري

موضوع دا هم د پښتو لنډيو يوه مجموعه ده چې بيا هم په دوو برخو کې د الفبې په ترتيب شروع شوي او دا برخه يې له يوې ضميمې سره په يوه ټوك کې راغلې ده.

## ۸- ګل ټپي درېيم ټوك

ټولوونکی: ګل محمدخان کاکړ

د خپرېدو کال: نه لري

خپروونکی: اسلاميه پرېس کويټه

موضوع: د ولسي شاعرۍ د چاربيتو، غزلو، لوبو، لنډيو، رباعي ګانو او د ولسي شاعرۍ نورو رنګارنګ شعرونو مجموعه ده. د درېيم ټوك موضوع هم لکه چې يادونه وشوه، ولسي شاعري ده. دا هم د پښتو لنډيو درېيمه برخه ده، چې بې له رديفه پر دوو کوچنيو بېلابېلو برخو کې راټولې شوې دي.

## ۹- لېونی

www.melitabrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصنف: اکمال خان لېوني

خپرونکی: عوامي کتاب خانه، پېښور

د خپرېدو ځای: منظور عام پرېس، پېښور

موضوع: د ولسي شاعرۍ ځيني نمونې

## ۱۰- اله دين چراغ

تصنيف: عزيزالرحمن

خپروونکی: قديمي کتاب خانه، پېښور

د خپرېدو ځای منظور عام پرېس، پېښور

موضوع د اله دين چراغ د مشهورې فلکلوري کيسې منظومه پښتو ترجمه ده او د کيسې د رنګينۍ لپاره ځای پرځای لنډۍ، لوبې او نور ولسي شعرونه په کې راغلي دي.

## ۱۱- ټپې

ټولونکی: سيداکبر صابر

خپروونکی: رحمان ايندکمپاني بك سليرز

د خپرېدوځای: حميديه پرېس، پېښور

موضوع: د پت، وطن، جانان، زلفو، پېزوان، بېلتون، سترګو، سالو، ګودر، اختر، غم، غماز، طبيب، پسرلي، ملتان، چمنی

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان، منګی، شونډو او نورو عناوینو لاندې د لنډيو انتخاب او چاپ دی.

## ۱۲- چمنی خان

مصنف: عبدالوهاب دستي

خپرونکی: رحمان ګل اينډ کمپني بك سليرز

د خپرېدو کال: نه لري

خپرېدو ځای: سرحد الکتريك پرېس، پېښور

موضوع: د انګرېزانو او نورو پرضد د نامتو ملي مجاهد (چمني خان) د مبارزو داستان دی، چې د ولسي اشعارو په طرز په لنډيو، لوبو، غزلو او نورو کې په خواږه ډول ليکل شوي دي.

## ۱۳- نوې کيسه د شهزاده لال او اونيلمي شهزادګۍ

مصنف: طالب ولي محمد خان

خپرونکی: رحمان ګل خان اينډ کمپني نيو اکشال

موضوع: د دوو مينانو يو فلکلوري کيسه ده چې په ولسي نظم کې اچول شوې او ځای پرځای لوبې، لنډۍ او رباعي ګانې هم د کيسې د رنګينۍ په غرض په کې راغلي دي.

## ۱۴- د غم ټال درستم خان، بي بي شرينې

مصنف: ميا قدرت شاه د ملنګي شريف

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپرونکی: حاجي محمد عبدالخالق فضل مالك

د خپرېدو ځای: شاهین برقي پرېس، پېښور

موضوع: د دوو مینو فلکلوري کیسه ده چې ځای پر ځای رباعي ګانې او لنډۍ هم په کې راغلي دي.

## ۱۵- د فکر تال او خوندناکې ټپې

مصنف: سیداکبر صابر

خپرونکی: میاحاجي محمدعبدالخالق فضل مالك

د خپرېدو ځای: نیوایګل ستار پرېس

موضوع: د نوموړي شاعر د ولسي طرز شعرونه، لکه چاربیتې، غزلې، لوبې، رباعي ګانې، لنډۍ او نور په کې راغلي دي.

## ۱۶- ناول د ماه رخې

لیکونکی: راحت زاخیلی

په فرمایش د حضرت ایف ار این ایچ صاحب

موضوع: دا کتاب فی الواقع صحیح قصه ده، د حال زماني سرګذشت دی، د سترګو لیدلی حال دی چې په سنه (۱۹۰۶-۱۹۰۷-۱۹۰۸-۱۹۰۹) کې تېره شوې ده.

په نثر لیکلی شوی ناول دی چې ځای پر ځای لنډۍ او بیتونه هم لري.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۷- رویل ګلونه

مصنف: رویل خان رویل د نوبنار

ناشران: حاجي عبدالمنان او محمد اجمل، اسلامي کتابخانه

د خپرېدو ځای: حمیدیه پرېس، پېښور.

موضوع: د ولسي شعرونو، رباعي ګانو، لوبو، غزلو، مسرو او نورو شعري مجموعه.

## ۱۸- زخم پټی

مصنف: جمال شاعر

ناشر: نوراني کتابخانه

د خپرېدو ځای: منظور پرېس، پېښور

موضوع: د یاد ولسي شاعر د نظم، شعرونو، کیسو، چاربیتو، لوبو، لنډیو او نورو مجموعه ده.

## ۱۹- الف لیلی

مصنف: ګل دراز اصیل

خپرونکی: عوامي کتابخانه نیواکشال

موضوع: د فتح باب شهزاده، فلکلوري کیسه ده چې په کیسه کې غزلې، لوبې او لنډۍ هم راغلي دي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲۰- طالب جان

مصنف: شاعر ولي

خپرونکی: عوامي کتابخانه نیو اکشال

د خپرېدو ځای: شاهین برقي پرېس، پېښور

موضوع: د طالب جان فلکلوري کیسه په کې په نظم شوې او د کیسې د جذابیت په غرمو لنډۍ، لوبې او غزلې هم په کې راغلي دي.

## ۲۱- حکایت لاجواب

تصنیف: علي حیدر جوشي

ناشران: حاجي عبدالمنان او محمد اجمل، اسلامي کتابخانه

د خپرېدو ځای: حمیدیه پرېس، پېښور

موضوع: د حضرت یوسف د سورة منظومه ترجمه ده او ځای پر ځای په کې لوبې، لنډۍ او غزلې هم راغلي دي.

## ۲۲- د زړه ټکور

مصنف: سلیم شاه

خپرونکی: اسلامي کتابخانه، پېښور

د خپرېدو ځای: منظور عام پرېس، پېښور

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضوع: د یاد ولسي شاعر د داستانونو، لوبو، غزلو، رباعي ګانو مسرو او نورو ولسي شعرونو مجموعه ده.

## ۲۳- د فرهاد او شرینۍ کیسه

مصنف: ولي محمد افغان

خپرونکی: زمان ګل عوامي کتابخانه

د خپرېدو ځای: شاهین پرېس، پېښور

موضوع: د شرینۍ او فرهاد تاریخي کیسه، د پښتو د مشهور یاد ولسي شاعر له خوا ولسي سندرو او داستان په چوکاټ کې لیکل شوې، او ځای پرځای د کیسې د رنګینۍ لپاره لوبې، سندرې، لنډۍ او غزلې په کې راغلي دي.

## ۲۴- د پر غم

لیکونکی: جمال د ګنداب شاعر

خپروکی: حاجي عبدالمنان محمد اجمل د اسلامي کتابخانې مالکان

د خپرېدو کال: نه لري

موضوع: د مومن خان او شرینۍ د ناکامې مینې ملي کیسه یې په ولسي نظم او لنډیو کې اچولې او په (۱۶) برخو کې یې ترتیب کړې ده.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲۵- قصه د لوی ځوان صاحب

مصنف: عزیزالله پردېس

خپرونکی: حاجي محمد عبدالخالق فضل مالك

د خپرېدو ځای: منظور عام پرېس، پېښور

موضوع: د لوبو، مقامونو او لنډیو مجموعه ده، چې په پورتني نامه یوه کیسه په کې راغلې ده.

## ۲۶- علي بابا چالس چور

مصنف: طالب محمد ولي محمد

خپرونکی: حاجي عبدالخالق فضل مالك

د خپرېدو ځای: شاهین برقي پرېس، پېښور

موضوع: د علي بابا او څلوېښتو غلو کیسه ده، چې په مثنوي قالب کې نظم شوې، او ځای ځای لنډۍ او ولسي چاربیتې هم په کې راغلي دي.

## ۲۷- د ټکرو شکور

تصنیف: کندرختك

ناشر: حاجي فضل احمد

د چاپ ځای: منظور عام پرېس، پېښور

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضـــوع: د پښتـــو ولســـي ادب پـــه زړه پـــورې لـــوبې، کیســـې، چاربیتې، نیمکۍ، غزلې، ټپې، حمدونه، لنډۍ، نصیحتونه او نعتونه په کې راغلي دي.

## ۲۸- قصه د عثمان شهزاده

مصنف: امیرحیدر

ناشر: عوامي کتابخانه، نیوك اکشال

موضوع: یوه فلکلوري کیسه ده، چې د نظم په ترڅ کې په کې لوبې، لنډۍ او غزلې هم راغلي دي.

## ۲۹- قصه د شهزاده اورنګ او بناپېرۍ تاجبرو

مصنف: نورمحمد

ناشر: اسلامي کتابخانه

موضوع: یوه فلکلوري کیسه ده چې د یوه ولسي شاعر له خوا په ولسي شعرونو او لنډیو لیکل شوې ده.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځونه


۱- پښتو لنډۍ، سلیمان لایق او مجاور احمد زیار، ۱۳۶۳ل کال.

۲- پښتني لنډۍ، بېلابېل چاپونه

۳- د ادب تیوري اساسونه، دوست شینواری، ۱۳۶۵ ل کال.

۴- د پښتو شفاهي ادبیات، غوټۍ خاورې، ۱۳۶۶ ل کال.

۵- پښتو پانګه، لومړی ټوك، حبیب الله رفیع، ۱۳۵۴ل کال.

۶- پښتو پانګه، دویم ټوك، حبیب الله رفیع، ۱۳۵۶ ل کال.

۷- پښتني سندرې، لومړی ټوك، محمد دین ژواك، ۱۳۳۴ ل کال.

۸- د لنډیو نومونه، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي لکچرنوټونه


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور وداني

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (حاجي عالم خان) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوالې او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**